ژباړن: ابراهیم نعیمی ۲۰۱۰/۱۰/۰۹م

# سرتیری، افغانان دساتیری لپاره وژنی

Morgenavisen Jyllands – posten d. ۲۹.sep.۲۰۱۰

دډنمارک په پورتنی ورځپانه کی دامریکایی سرتیرودوحشت بیان شویدی چی دګرانولوستونکولپاره یی ژباړم.
دامریکامتحده ایالاتودنوی جنجال برانګیزه موضوع په اړوند چی ددوی دسرتیرو وحشت بیانوی، تکان خوړلی دی

**واشنګټن**

دپوښتنوپه جریان کی سرتیروپه بی پروایی اوبیله کوم لیدونکی احساس دقتلونوپه اړونداسی بیان کاوه. یوبی وسلی ناڅاپی افغان په نښه کاوه اوڅنګه Calvin Gibbs څنګه ددوی جګړن دوی هغه دساتیری لپاره په لاسی بم اوډتوپک په ډزوواژه.

په دی پیښه کی داسی انځورشته چی امریکایی سرتیری وژل شوی افغانان داسی په نمایش ښکاره کوی لکه لوی بری یی چی په نصیب شوی وی.

دنوموړی فوځی افسرسره دپلټونو په نتیجه کی دقربانیانو یوشمیرپری شوی ګوتی، هډوکی اویوغاښ موجودوه. دیوبل متهم سره دیوافغان ککری شتون درلودی.

څه دپاسه شپږکاله مخکی دامریکایی سرتیرو وحشیانه شکنجی، سادیستی کړنی اوجنسی تیری یی چی دعراق دابوغریب په زندان کی کړی وه، دادی بیاهغه ته ورته کړنه دامریکایی سرتیرولخواپه افغانستان کی بربنډه شوه. چی په باورسره به دجګړی په ډګرکی جبران نه کیدونکی اغیزه ولری.

نن شپه پنځه سرتیری چی عمرونه یی ترشلوکالو لوړدی، د درو تصادفی افغانانو په وژلومتهم شوه. ددی پیښی دپوښتنو په نتیجه کی به څرګنده شی چی نوموړی سرتیری په دی قضیه کی داسی مجرم وګڼل شی چی دپریکړی لپاره پوځی محکمی ته معرفی شی؟ نوکیدلای شی چی دمرګ سزا ورکړه شی. په یوویډیویی دیوامریکایی تلویوزیونی شبکی Jeremy Morlock ننداره کی(۲۲) کلن سره داسی بیان کوی: وژنی د یادشوی افسرپه واسطه تنظیم کیدی اوداسی کیسه یی جوړه وله چی ګواکی نوموړی افغانان دجګړی په ډګرکی وژل شویدی.

دمخدره توکواستعمال:

سرتیری ډیروخت د داروګانو او چرسو د استعمال په وجه نشه وه او علاوه کوی چی دوی به اکثراً ډیرنشه وه چی د«راموردفوځی» مرکز څخه چی په افغانستان کی دی، به په ګزمه وتل. د دغو سرتیرو څخه یوه تن داهم ومنله چی که دیادشوی افسر د امر څخه یی سرغړونه کړی وای، دمرګ ګواښ ورته متوجه وه.

خپل کورنی ته دنوموړی وحشی افسر په Adam Winfield دیادشووسرتیروڅخه کی اودوژنوپه اړوندلیکلی وه. دنوموړی سرتیروالیدینوځو Facebookهکله په ځله دامریکافوځ ته داړوندی موضوع په هکله اطلاع ورکړی وه. ولی بی ګټی وه. هیڅاعکس العمل نه ښودی. مدافع وکیل دامریکی فوځ په دی ملامتوی چی سرتیری یی د سختو مخدره موادو په استعمال سره دندی ترسره کوی. دغه ځوان سرتیری په سخته روحی ناروغتیا دلاری دیوبمب دچاودنی په وجه، اخته وه. نوموړی ډیره قوی دارواستعمالول او بیاهم دندی ته لیږل کیده. مدافع وکیل وایی چی نوموړی سرتیری باید امریکی ته دمعالجی لپاره رالیږل شوی وای. دا ډیره ډاره ونکی ده چی نوموړی سرتیری په ویډیویی ننداره کی دوژنی جریان داسی بیانوی لکه دورځنی ژوندچاری چی یوڅوک بیانوی.

دسرتیروهڅوته زیان رسوی

دعراق څخه Gibbs دسرتیرومدافع وکیل ددی ځواب غوښتونکی دی چی ولی افغانستان ته راوستل شو. دجګړی په درشل کی داسی اوازی وی چی نوموړی سرتیری دورته کړنوباټی وهلی. دنوموړووژل شووکسانومړی هیڅ وخت نه پیداکیږی نودا به دڅارنوالو لپاره ستونزمنه وی چی داسی اسنادپیداکړی چی چاپردغوکسانومرګونی ډزی کړی دی. دولتی مقاماتو(۷۰) انځورونه اوشواهد پټ کړی دی. موخه یی داده چی دعامو افغانانو سره تر اړتیانه زیات حالات کړکیچن نه شی. دامریکی دفوځ لوړپوړی مشران ډارلری، هغه محدود محبوبیت چی امریکی دخلکوپه منځ کی درلودی اودجګړی په وخت یی ګټه ورڅخه اخیسته، داموضوع همدااوس زیانمن کړی دی.

دژباړن تبصره

په همدی ویبپانه کی می څوورځی مخکی دی ته ورته مضمون دډنمارکی سرتیرو په اړوندوژباړی. دادی اوس په ګران هیوادافغانستان کی دیوبل وحشیانه جنایت شاهدان یوچی دامریکی درسانیوله لیاری رسواکیږی. ډیرتردی بدتره جنایتونه به شوی یی چی دکلونوپه اوږدوکی به بربنډشی. په داسی حالاتوکی نوڅنګه پردی بی دفاع خلکوزړه ونه سوځل شی ولی ګیله ورنه وکړوچی دبهرنی تیریوپه مقابل کی جګړه کوی او یا په اصطلاح دطالبانو په لیکوکی دریږی په داسی حال کی چی په تورشپه یی بیګانه وحشی سربازان کورنوته وراوړی او په وینوکی لمبوی او یا په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ډله ایزه توګه بمونه ورباندی غورزوی او په سپینه ورځ یی دادی امریکایی سرتیری او افسران په وژلواو ددوی دبدن په غړولوبی کوی اوان داچی دسرکوپړه او پری شوی ګوتی یی دځانه سره ساتی. نه پوهیږو چی ددی مظلوم ملت پایله به څه وی. ولی دداسی سرتیرو محاکمه کول او یاسزا ورکول هم یوازی خبری دی ځکه دهمدی مضمون دمحتوا څخه پوهیدلای شوچی دروحی ناروغتیا پلمی همدا اوس ورته لټوی ولی اساسی پوښتنه داده :
چی ولی خپل دهیوادوسادیستان زموږ بیچاره ولس ته رالیږی او بیا دانوم پری ایږدی چی دافغانانو مرستی ته راغلی یو؟
خدای دی پرافغان مظلوم ملت خپل رحمت وکړی والسلام

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ